# د ښوونې او زده کړې توکو د کیفیت لوړول

# Enhancing the Quality of Teaching and Learning Materials

## داروپامېشتو افغان لويانو د ښوونې او زده کړې توکو ښه والی

## **Improving the Learning and Teaching Materials  for Afghan Adult in Europe**

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

د پوژې شمېره:2024-1-AT01-KA210-ADU- 000250093

**د اروپا مېشتو افغان لويانو لپاره په خپل مورنۍ ژبه د زده کړې او ښوونې توکو د کيفيت لوړول**

**د پروژې موده:** ۱/۹/۲۰۲۴ - ۲۸/۰۲/۲۰۲۶ (۱۸ میاشتی)

ډاکټر فضل‌الرحمن، د **"افغان ولس" کلتوري او ورزشي ټولنې رئيس – اتريش**

# د منځپانګې لړلیک


۱. سریزه ........................................................................... ۲

۲. د هدف ډلې په لورتمرکز. ........................................................ ۳-۴

۳. دهدف ډلي په لور د تمرکز اهمیت ........................................................۵-۶

۴. د ژبې کیفیت ( پښتو/ دري )........................................................ ۷-۸

۵. د لوپانو درسي توکوښه وده ........................................................۹-۱۰

۶. د ښوونې کیفیت ........................................................ ۱۱-۱۲

۷. د ښوونې کیفیت لندیز ........................................................۱۳-۱۴

۸ . ټولنيز او کلتوري اهمیت ........................................................۱۵-۱۶

۹. د کلتور او ټولنې سره تړلې ښوونه . ........................................................۱۷-۱۸

۱۰. ښوونیز جوړښت او د پاڼې ډیزاین ........................................................۱۹-۲۰

۱۱. ټولګډونه او د لاسرسي وړ زده کړه ........................................................۲۱-۲۲

۱۲. دقت( پاملرنه) او له واقعیت سره اړیکې........................................................ ۲۳-۲۴

۱۳. دقت اوله واقعیت سره اړیکې د زده کړې له لارې د باور رامنځته کول............... ۲۵-۲۶

۱۴. دچتکې خارنې وسیلې........................................................۲۷-۲۸

۱۵. پیژندپانه ........................................................۲۹

# سریزه

په اروپا یي هېوادونو کې د مېشتو افغان لویانو لپاره د زده کړې او ښوونې د موادو کیفیت د کچې لوړول یوه بنسټیز ګام دی څو ټولشموله، اغېزمنه او دوامداره روزنه رامنځته شي. د ډېرو افغان لویانو لپاره، په خپله اصلي ژبه—پښتویا دری—زده‌کړه د مطالبو ښه درک، د ځان باور زیاتوالی، او د مخکښې پوهې او نویو ټولنیزو، فرهنګي او زده‌کړیزو چاپېریالونو ترمنځ د مانا لرونکي پیوند سبب ګرځي.

لوی زده‌کوونکي د ژوند مهمې تجربې له ځانه سره لري، خو له ځانګړو ننګونو سره هم مخ دي؛ لکه د زده‌کړې د بندیدو ستونزې، محدود سواد، د مهاجرت فشارونه، او اړتیا چې ژر د اروپا په ټولنو کې د ناآشنا سیستمونو او جوړښتونو سره ځان عیار کړي. له همدې امله، د لوړ کیفیت زده‌کړیز مواد باید عملي وي، فرهنګي درناوی پکې وشي، د جنسیتي موضوعاتو په وړاندې حساس وي، او مستقیم د زده‌کوونکو په ورځني ژوند پورې تړاو ولري.

په دې بروشور کې شپږ مهم معیارونه وړاندې شوي چې هدف یې د زده‌کړې او روزنې د موادو جوړولو، ارزونې او ښه کولو لارښوونه ده، په ځانګړې توګه دري او پښتو ژبو کې د اروپا مېشتو افغان لویانو لپاره. دغه معیارونه ښوونکو، د زده‌کړیزو موادو جوړونکو او تعلیمي موسسو سره مرسته کوي چې داسې منابع جوړ کړي چې زده‌کوونکي‌محوره، له تعلیمي پلوه قوي، فرهنګي او ټولنیز اړخونه یې درناوی شوی وي، او د لویانو د زده‌کړې او ټولنیزې مدغمې چوکاټونو سره سمون ولري.

په راتلونکو برخو کې، هر معیار جلا تشریح شوی او لارښوونې وړاندې کېږي چې وښیي څنګه لوړ کیفیت زده‌کړیز مواد کولی شي د افغان لویانو توانمندي زیات کړي څو په ټولنیزو، مدني او اقتصادي فعالیتونو کې فعاله برخه واخلي.

## ۱. د هدف ډلې لورى پېژنده Target Group Orientation

### موخه او اهميت

دهدف ډلې د لوري پېژندې موخه داده چې د ښووني او زده کړې مواد په ځانګړي توګه د افغان لويانو زده کوونکو ( هدف ګروپ) لپاره طرحه او وړاندې شي، يعني د هغوی تعليمي شاليدونه، کلتوري چاپېريالونه، د کډوالی تجربې او په اروپا کې د ژوند روان حالات په پام کې ونيول شي . ډېر زده کوونکي د زده کړو له ځنډ/ خنډ ،د مهاجرت، بېځايې کېدو او رسمي زده کړو ته د محدود لاسرسي سره مخامخ شوي. له همدې امله، مواد بايد واقعي، دعيني شرايطوسره برابراو وړتيا ښنونکي وي، نه دا چې يوازې اکاد ميک او نظري وي.

زده کړه هغه مهال لا ډېره اغېزمنه وي کله چې نوې معلومات د زده کوونکو له شته پوهې، ارزښتونو او ژوند د تجربو پر بنسټ جوړ او وړا ندې شي.

### زده کوونکو پېژندنه

په اروپا کې افغان دلوړعمر زده کوونکي د عمر، جنسيت، سواد کچې او پخوانۍ زده کړې له مخې بېلابېل ګروپونه جوړوي. ځيني زده کوونکي ښايي په خپله مورنۍ ژبه لوستل او ليکل وکړای شي، په داسې حال کې چې نور ښايي د ډېر محدود لوست او ليک وړتيا ولري. له همدې امله، د تدريس مواد بايد انعطاف منونکي وي او په ټولګي کې د زده کونکو بېلابېلواستعدادونو ته پام ولري..

مواد بايد:

- د زده کوونکو انسانی کرامت او د ژوند تجربو ته درناوی وکړي
- د زده کونکو پخوانۍ زده کړې په باب له دمخه ګمان او اټکل څخه ډډه وکړي
- روښانه اوساده ژبه او ورسره انځورونه وکاروي .

### ټيټ سواد زده لرونکودلاسرسۍ ستراتيژي

د ټيټ سواد لرونکو زده کوونکو د ملاتړ لپاره، مواد بايد تر ډېره په بصري ( انځوريز) اړيکو او شفاهي تعامل ولاړ وي.

مهمې لارې او ستراتيژۍ عبارت دي له:

- د روښانه رنګونو، نښو، سمبولونو او انځورونو کارول
- لنډې جملې او اشنا کليمې
- په هره پاڼه کې لږ متن او ورسره اړونده د انځورونه
- معلومات په پړاو په پړاو وړاندې کول
- دمنظم ډيزاين اود تکراري انځوريزوبېلګې( الګو) کارول

دا لارې چارې زده کوونکو سره مرسته کوي چې منځپانګه ښه درک کړي او پرته لدې چې د فشار احساس وکړي يا داچې له پاملرنه ورته نه کېږي، د زده کړې په بهير برخه واخلي.

## دعملي او ټولشموله زده کړې طرحه/ ډیزاین

### د جنسی حساسیت او شمولیت مسئله

د زده کړې مواد باید د جنسیت برابري اوبرخوالي ته پام ولري او په ورته مهال کې کلتوري درناوی وساتي. ښځې او نارینه باید په انځورونو، خبرو او بېلګو کې په مساوي ډول ځرګند او فعال وي.

مواد باید:

- ښځې او نارینه په ټولنیزو، تعلیمي او مسلکي رولونو کې وښیي
- له کلیشه يي / منفي ټاپه او تبعیضي ژبې ډډه وکړي
- د ټولو زده کوونکو ګډون او باور وهڅوي
- د کورنۍ، ټولنې او کارځای تر منځ تنوع وښیي

دا طرز کار د زده کړې برابر لاسرسی پیاوړی کوي او ټولنیز شمولیت ته وده ورکوي.

### عملي حالتونو یا کارولو ته تمرکز

هدف ډلې ته د تمرکز پر بنسټ د زده کړې جوړ شوي باید له نظري یا علمي محتوا پر ځای د ژوند عملی مناسباتو او اړتیاوو ته لومړیتوب ورکړي. درسونه باید په مستقیم ډول د اروپا په ورځني ژوند کې د کارولو وړ وي.

د کارولوبېلګې عبارت دي له:

- د خوراکي توکو پېرود او د بيې پوهېدل
- له عامه ترانسپورت ګټه اخیستنه اود نښو لوستل
- له روغتیایي خدمتونو سره اړیکه، خبرې کول اوستونزه حلول
- له ښوونکو، کارخاوندانو او رسمي ادارو او چارواکو سره تعامل او مناسب چلند
- د بنسټیزو حقونو او مسؤلیتونو پوهه

دا ډول منځپانګه زده کوونکو ته دا وړتیا وربښي چې په خپل نوي چاپېریال کې په خپلواکه او ډاډ منه توګه عمل وکړي.

### د ژوند ننګونې او کډوالۍ په ګوته کول

د زده کړېمواد باید له افغانستان نه اروپا ته د کډوالۍ ستر بدلون او ورسره تړلې ستونزوته په ټینګه پاملرنه وکړي. د ژوند په دې پړوا کې ناآشنا سیستمونه، نوي ټولنیز معیارونه اوبېلابېل روحي فشار شامل دي.

اغېزمن اوبا کیفیته مواد باید:

- اروپایي نظامونه په تدریجي او روښانه ډول معرفي کوي
- اشنا دودونه له نویو سره په درناوي پرتله کړي.
- زده کونکی په نوي ځای او چاپېریال د کې ځان وپېژني او دخپلواک عمل ډاډ تر لاسه کړي.
- له کلتوري پلوه نامناسب یا غیر واقعي حالتونو څخه ډډه وشي.

د زده کوونکو د واقعي تجربو په انعکاس سره مواد ډېر مانادار او هڅوونکي کېږي.

### د کیفیت معیارونه/ ځانګړتیاوې

د هدف ډلې تمرکز هغه وخت په بریالیتوب سره تر لاسه کېږي کله چې مواد:

- د ټیټ سواد لرونکو لپاره د پوهېدو وړ وي
- د جنسیت توازن او کلتوري درناوی وښیي
- د واقعي ژوند اړتیاوو ته تمرکز وکړي
- په ټولنه کې ادغام، خپلواکي او ځان باور پیاوړی کړي

## ولې دهدف ډله پېژنده مهمه ده

هدف ډلې ته پاملرنه په اروپا کې د افغان لويانو زده کوونکو لپاره د ګټورو تعليمي موادو په جوړولو کې يو بنسټيز اصل دی. دغه اصل تضمينوي چې د زده کړې سرچيني نه يوازې د ژبې له پلوه د پوهېدو وړ وي، بلکې له ټولنيزو معيارونو سره هم برابري ولري، کلتوري ارزښتونه مراعات کړي او د زده کوونکو د ورځني ژوند لپاره هم ګټوري وي.

د ډېرو افغان کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره، زده کړه يوازې يو علمي تمرين نه دی، بلکې دا د ژوند د بيا جوړولو، د نويو ټولنيزو اصولو د پوهېدو او په ټولنه کې د بشپړ ګډون لپاره د باور ترلاسه کولو يوه حياتي وسيله ده. کله چې درسي مواد د هدف ډلې پر بنسټ طرحه شي او د هغوی پېژندنه په پام کې ونيول شي، زده کړه لا زياته مانادارە، ټولشموله او ځواک بښونکې کېږي.

افغان لوي زده کوونکي په اروپا کې ډېرځلې بېلابېل تعليمي شاليدونه لري. ځينې کسان ښايي په افغانستان کې تر منځنی يا لوړې کچې پورې زده کړې کړې وي، په داسې حال کې چې نور ښايي د جګړې، بې ځايه کېدو يا اقتصادي ستونزو له امله خپلې زده کړې درولې وي. په ډېرو حالتونو کې، زده کوونکي ښايي ارزښتمنې ژوندۍ تجربې او عملي پوهه ولري، خو رسمي سواد ونه لري. د همدې تنوع له امله، درسي توکي بايد انعطاف منونکي/ د سمون وړ او د حالاتو سره همغږي ولري.

هغه تدريسي اصلونه چې د ټولو زده کوونکو تعليمي سطحه يو شان فرض کړي، کولای شي هغه زده کوونکي له پامه وغورځوي چې اضافي مرستې ته اړتيا لري. د هدف ډلې تمرکز ښوونکي او د موادو جوړوونکي هڅوي چې د افغان کډوالو تر منځ بېلابېلې تجربې او د زده کړې اړتياوې وپېژني او پام ورته وکړي.

د دې تګلارې يوه مهمه برخه د روښانه، ساده او د پوهېدو وړ ژبې کارول دي. د هغو زده کوونکو لپاره چې سواد يې محدود يا نيمګړی وي، د اوږدو متنونو او پېچلو ګرامري جوړښتونو پوهېدل ګران وي. له همدې امله، درسي توکي بايد لنډې جملې، اشنا لغتونه او بصري تشريحات ولري. د انځورونو، سمبولونو او يو شان ډيزاين کارول زده کوونکو سره مرسته کوي چې معلومات په اسانه درک کړي او د زده کړې بهير پرته له فشار او په زړه پورې شي.

د هدف ډلې تمرکز يو بل مهم اړخ دا دی چې پر عملي، د ژوند له واقعيتونو سره تړلې زده کړه ټينګار کوي. ډېر ځله لوي زده کوونکي هغه وخت هڅېږي چې زده کړه يې د ورځني ژوند لپاره سمدستي ګټه ولري. هغه درسونه چې د ورځنيو حالتونو پر بنسټ وي، لکه ډاکټر ته تلل، د عامه ترانسپورټ کارول، په سوپرمارکېټ کې پېرود کول يا له ښوونکو او کار ورکوونکو سره اړيکه نيول، زده کوونکو ته داسې پوهه ورکوي چې له ټولګي بهر هم کارېدلی شي. دا عملي تګلاره د زده کوونکو خپلواکي پياوړې کوي او هغوی سره مرسته کوي چې له ټولنيزو، اداري او مسلکي چاپېريالونو سره ځان عيار کړي.



جنسیت حساسیت پاملرنه هم د هدف ډلې پر بنسټ د زده کړې د موادو د ډیزاین مهم او جوړونکي ټکي دي. کله چې په اروپا کې د افغان ټولنې خبره وي، باید ښځې او نارینه دواړه په پام کې ونیول شي، ځکه چې دوی بېلابېلې د زده کړې تجربې او ټولنیزې تمې لري. له همدې امله، د زده کړې مواد باید متوازن استازیتوب ولري او له کلیشه/ قالبي/ تکراري انځورونو څخه ډډه وکړي. انځورونه، خبرې اترې او بېلګې باید ښځې او نارینه په مساوي ډول په ټولنیزو، تعلیمي او مسلکي رولونو کې وښيي. دا ډول استازیتوب د ټولو زده کوونکو فعال ګډون ته هڅونه کوي او د زده کړې داسې ماحول رامنځته کوي چې د برابری، درناوي او متقابل تفاهم پر بنسټ ولاړ وي.

سربېره پردې، د زده کړې بهیر باید د کډوالو ټولنیز واقعیتونه او عاطفي حالتونه درک کړي. په نوي هېواد کې ژوند کول، له ناآشنا سیستمونو، کلتوري نورمونو او قانونو سره عیارېدل غواړي. له همدې امله، زده کوونکي ښايي د اندېښنې، روحي فشار یا د خپل پخواني چاپېریال څخه د بېلتون احساس ولري. هغه زده کړې مواد چې اروپايي سیستمونه لکه روغتیا، زده کړه، کار او عامه اداري په تدریجي او روښانه ډول معرفي کوي، د زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپل نوی چاپېریال ښه درک کړي. په ورته وخت کې، دا مواد باید د زده کوونکو کلتوري هویت ته درناوی ولري او له قضاوت کوونکو او نامناسبو مقایسو څخه ډډه وکړي.

یو متوازن چلند چې اشنا دودونه له نویو سره په درناوي سره ونښلوي، د نویو ننګونو سره د همغږۍ بهیر اسانه کوي او د زده کوونکو باور پیاوړی کوي.

په پراخه کچه، د هدف ډلې پر بنسټ زده کړه د ټولنیز ادغام او پیاوړتیا سره مرسته کوي. کله چې زده کوونکي وکولای شي اړین معلومات درک کړي، مؤثره اړیکه ونیسي او په خپل نوي چاپېریال کې په خپلواکه توګه حرکت وکړي، هغوی باور ترلاسه کوي او ښې اړیکې جوړولی شي. زده کړه بیا یوازې د پوهې ترلاسه کول نه وي، بلکې د ټولنیز ګډون، اقتصادي فرصتونو او شخصي پرمختګ لاره ګرځي.

په پای کې، د هدف ډلې تمرکز د زده کوونکي پر اړتیاوو ولاړې زده کړې څرګندونه کوي. دا تګلاره د افغان لویانو زده کوونکو اړتیاوې، تجربې او هیلې د زده کړې د بهیر په مرکز کې ږدي. د لاسرسي وړ ژبه، عملي حالتونه، د جنسیت شمولیت او کلتوري درناوی یو ځای کول داسې زده کړه رامنځته کوي چې ریښتیا هم زده کوونکي پیاوړي کوي. دا ډول تګلاره د افغان کډوالو سازمانونو ورتیا پیاوړې کوي چې لوړ کیفیت زده کړه وړاندې کړي او په اروپا کې ټولشموله، ملاتړ کوونکې او پیاوړې ټولنې جوړې کړي.




## ۲ .د ژبې کيفيت (پښتو/ دري) Language Quality

### د ژبې کيفيت څه ته وايي؟

د ژبې کيفيت په پښتو يا دري ژبه د زده‌کړې په توکو کې دا دی چې ژبه بايد روانه، عام‌فهمه، له ګرامري پلوه سمه، منسجمه او د ډلې لپاره مناسبه وي. په مورنۍ ژبه زده‌کړه کې دا معيار ځانګړی اهميت لري، ځکه چې دا د موادو د پوهېدو، د سواد د پرمختګ او د زده‌کوونکو د ځان‌باور سره مستقيم تړاو لري.

د اروپا مېشتو افغان لويانو لپاره، زده‌کړيز مواد بايد ريښتيني (د حقيقتونو پر بنسټ)، معياري او پرته له سيمه‌ييزو لهجو وي، څو د بېلابېلو جغرافيايي او ژبنيو شاليدونو لرونکو زده‌کوونکو لپاره د پوهېدو وړ وي.

### هدف

هدف دادی چې په ښوونه کې د ژبې لوړکيفيت وسائل شي . ژبه بايد هم کره، دقيقه او معياري( ستندرد) وي او هم په ورځني ژوند کې په عملي توکه وکارول شي.

### د ژبې کيفيت مهم اصول

د کيفيت له پلوه ښه ښوونيز توکي بايد:

- دواړه ژبې له ګرا مري پلوه سمه اوله فرهنګي ارزښتونه سره مناسبې وکاروي.
- د معياري، منل شوې او بې‌طرفه ژبې ډولونه وکاروي چې په مختلفو سيمو کې د پوهېدو وړ او مروجې وي
- له پېچلو او ستونزمنو کلمو، په ځانګړې توګه د نويو زده‌کوونکو لپاره، ډډه وکړي
- نوي اصطلاحات په تدريجي او منظم ډول معرفي کړي
- په املا، لغت او د ژبې په ترتيب او د کيفيت په کچې کې ثبات ولري
- ټولشموله وي، درناوي کې وساتل شي او له تبعيض يا دمخه قضاوت پرته ژبه وکاروي

د ساده، روښانه او منظم ژبې کارول زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې په موضوع ښه پوه شي، پرخپل نفس باور سره برخه واخلي او پرمختګ وکړي، چې په نتيجه کې  به زده‌کړه لا اغېزمنه او ورتيا ښونکې وي.



## ګرامر، لغت او معیاري کول

### ګرامر او د جملې جوړښت

زده‌کړیز مواد باید په معیاري دري (د کابل د معیار پر بنسټ) او معیاري پښتو (د کندهار یا ننګرهار د معیار پر بنسټ) ولیکل شي. د جملو سم جوړښت، د ښو کارونه او روانه لیکنه ډېر مهم دي. له پېچلو او غیر ضروري ګرامري تشریحاتو څخه باید ډډه وشي.

### د لغتونو انتخاب

د رسمي لیکدود او ورځني محاوري ترمنځ توازن ډېر مهم دی. زده‌کوونکي باید وکولی شي هم په ورځني ژوند کې اړیکه ونیسي او هم رسمي مفاهیم درک کړي. ډېر ادبي یا ډېر تخنیکي لغاتونه باید محدود وکارول شي، څو زده‌کړه د ټولو لپاره اسانه پاتې شي.

### پور شوي لغتونه او د اروپا په چاپېریال کې کارونه

زده‌کړیز مواد باید هغه اروپایي او محلي اصطلاحات هم شامل کړي چې زده‌کوونکي ورسره په ورځني ژوند کې مخ کېږي، لکه د کار، اداري، روغتیا، تعلیم او عامه خدماتو اړوند لغاتونه. پور شوي لغتونه باید په طبیعي ډول په دري او پښتو جملو کې وکارول شي، روښانه مثالونه دې ورکړل شي، او په ټول متن کې دې په ثابت ډول تکرار شي.

### د لهجو او ژبني تنوع پوهاوی

که څه هم معیاري ژبه لومړیتوب لري، خو د لوړ کیفیت مواد باید د سیمه‌ییزو توپیرونو او لهجو درناوی وکړي. دا توپیرونه کولای شي د لنډو یادښتونو یا پاورقیو په بڼه ذکر شي، څو زده‌کوونکي مغشوش نه شي. موخه دا ده چې متقابل فهم رامنځته شي، نه دا چې یوه لهجه برتره وښودل شي.

### د ژبې کیفیت اهمیت

کیفیت لرونکې ژبه له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې مطلبونه ښه درک کړي، سواد یې پیاوړی شي او پر ځان باور یې زیات شي. همدارنګه، دوی ته دا وړتیا ورکوي چې پښتو او دري ژبې په رسمي او غیر رسمي چاپېریال کې په اغېزمن ډول وکاروي. روانه او کره ژبه زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې اړیکې ټینګې کړي، په ټولنه کې مدغم شي او په نوي چاپېریال کې فعاله ونډه واخلي.



## د افغان دیاسپورا زده کوونکو لپاره د ښوونې سرچینو ښه کول

## Improving Educational Resources for Afghan Diaspora Learners

په اروپا کې د افغان کډوالو ټولنو لپاره د لوړ کیفیت تعلیمي موادو جوړول یو پراخ او پوره همغږي تګلاره غواړي چې پکې د ژبې کیفیت، کلتوري پوهاوی، د جنسیت حساسیت او د شواهدو پر بنسټ منځپانګه یو ځای شي. په دې پروګرام کې وړاندې شوې ورکشاپونه دا ښیي چې د زده کړې اغېزمن مواد په ناڅاپي ډول نه جوړېږي، بلکې د منظم پلان جوړونې، همکارۍ او دوامدار کیفیت ارزونې له لارې رامنځته کېږي.

د دې ناستو یو مهم ټکی دا دی چې په پښتو او دري کې د ژبې کیفیت او د ژباړې معیارونه ډېر اهمیت لري. په دیاسپورا کې د ډېرو افغان زده کوونکو لپاره، مورنۍ ژبه د هغوی د کورنۍ اړیکو او فرهنګي هویت ساتلو مهم وسیله ده. کله چې ژباړې ناسمې، ډېر لفظي یا روانې نه وي، نو دا زده کوونکي مغشوشوي او د هغوی پر ځان باور کموي. له همدې امله، د ژباړې روښانه معیارونه، د اصطلاحاتو منظم ترتیب او مدیریت، او د موادو په اړه د همسلکو د ډلې ارزونې (peer review) میکانیزمونه ډېر اړین دي. کله چې اړوند بنسټونه د بیاکتنې منظم بهیرونه او ګډ لغتنامې پلې کوي، نو کولای شي د تعلیمي موادو روڼتیا، یو شانوالی او له کلتور سره مناسبوالی ډېر ښه کړي.

په ورته توګه، د زده کوونکو پېژندنه هم مهمه ده. په اروپا کې افغان لوی زده کوونکي بېلابېل تعلیمي شالیدونه لري، او د هغوی د سواد او ژبې مهارتونه یو شان نه دي. ځینې ښايي لږ رسمي زده کړې ولري، په داسې حال کې چې نور ښايي څو ژبې وپوهېږي، خو د خپل کوربه هېواد له تعلیمي نظام سره اشنا نه وي. د هدف ډلې د اړتیاوو او تجربو ارزونې له لارې، ښوونکي کولای شي داډ ترلاسه کړي چې منځپانګه د زده کوونکو له واقعي ژوند سره تړلې ده. د ساده ژبې کارول، له پیچلو او اوږدو مطلبونو څخه تنقیص (Didactic Reduction) او ورسره د ورځني ژوند عملي بېلګې د دې سبب کېږي چې پیچلي معلومات هم اسانه او مانادار شي.

یو بل مهم عنصر د معلوماتو تازه والی او د شواهدو پر بنسټ معلومات دي. د زده کړې مواد ډېر وخت د قانوني حقونو، روغتیایي سیستمونو، د کار فرصتونو او عامه خدماتو په اړه معلومات وړاندې کوي. په دې برخو کې زاړه یا ناسم معلومات کولای شي د زده کوونکو لپاره ستونزې رامنځته کړي. له همدې امله، د باوري سرچینو کارول، رسمي اسناد او د موادو دوامداره نوي کول ډېر مهم دي. زده کوونکو ته دا ښودل چې د معلوماتو د سرچینې پلټنه او ارزونه څنګه وکړي، د هغوی د معلوماتي سواد پیاوړتیا کې مرسته کوي.



د جنسیت موضوع هم د زده کړې د کیفیت او برخې اخیستنې په پیاوړتیا کې مهم رول لري. افغان ښځې، په ځانګړي ډول د دیاسپورا په ټولنو کې، له ګڼو خنډونو سره مخ دي، لکه د ژبې محدودیت، د کور مسؤلیتونه او د زده کړې محدود فرصتونه. کله چې تعلیمي مواد د جنسیت له پلوه حساسیت ته پام ولري، نو د ټولو ګډون زیاتېږي او د ښځو پیاوړتیا ته وده ورکوي. هغه مواد چې ښځې او نارینه دواړه په بېلابېلو ټولنیزو رولونو کې ښيي، د لا ټولشموله زده کړې چاپېریال رامنځته کوي.

سربېره پر دې، نوې تعلیمي چوکاټونه لکه د زده کړې ټولشموله نړیوال ډیزاین ( Universal Design for Learning, UDL) او بصري سواد نوې لارې چارې وړاندې کوي چې زده کړه لا د لاسرسي وړ او زړه پورې کړي. د متن، انځورونو، غږیزو او تعاملي وسایلو یو ځای کول ښوونکو ته اجازه ورکوي چې د زده کړې بېلابېل سبکونه او ذهني تمایلات په پام کې ونیسي. ډیجیټل وسایل او مصنوعي ځیرکتیا هم دا بهیر پیاوړی کوي، ځکه ښوونکي کولای شي په اسانه ډول بصري مواد، څو رسنیزې تشریحات او څو ژبني سرچینې جوړې کړي.

د دې ورکشاپونو پایلې، لکه د همسلکانو د کره کتنې سیستمونه، د ژباړې چک‌لېستونه، د هدف ډلې د مناسب والي معیارونه او د شواهدو پر بنسټ لاربښودونه، عملي وسایل دي چې ټولنې او سازمانونه یې سمدستي کارولی شي. کله چې دا وسایل د دیاسپورا ټولنو ترمنځ شریک شي او په ګډو پلاتفورمونو کې ځای پر ځای شي، نو دا د افغان کډوالو لپاره د زده کړې یو ګډ کیفیتي چوکاټ رامنځته کوي.

په پای کې، د دې نوښتونو بریالیتوب د ښوونکو، ژباړونکو، ټولنیزو سازمانونو او خپله د زده کوونکو ترمنځ همکارۍ پورې تړلی دی. کله چې تعلیمي مواد د ژبې کیفیت، کلتوري درناوي، د جنسیت برابرۍ او د باور وړ معلوماتو پر بنسټ جوړ شي، نو دا د پیاوړتیا او ادغام لپاره قوي وسیله ګرځي. د دې معیارونو دوامداره پراختیا او پلي کول د افغان کډوالو لپاره د زده کړې فرصتونه پیاوړي کوي، ټولنیز شمولیت ته وده ورکوي او په اروپا کې د دوامدارو، پوهو او پیاوړو ټولنو د جوړېدو لپاره مرسته کوي

## ۳. تدریسي یا ښوونیزکیفیت Pedagogical Quality

### موخه او ښوونیز (تعلیمي) منظور

ښوونیز کیفیت دا ښیي چې د زده‌کړې مواد زده‌کوونکو ته څومره متمرکز، اغېزمن او مانادارە زده‌کړه وړاندې کوي. هدف دا دی چې له صرف حفظ کولو او غیرفعاله زده‌کړې څخه داسې درسي میتود ته لاړ شو چې افغان بالغ زده‌کوونکي پکې فعاله برخه واخلي، عملي مهارتونه زده کړي او پر خپل ځان دا باور ولري چې ژبه په خپلواکه توګه د ژوند په عملي یا ریښتینو حالاتو کې وکاروي.

ښه یا کیفیت لرونکي تعلیمي مواد بالغ زده‌کوونکي د بااستعداده او تجربه‌لرونکو کسانو په توګه پېژني او هڅوي یې چې په زده‌کړه کې فعاله برخه واخلي، نه دا چې یوازې مطالب تکرار شي او مفهوم له منځه ولاړ شي.

### له حفظ کولو تر پیاوړې زده‌کړې ( From Rote Memorization to Empowered Learning)

هغه زده‌کړه چې یوازې په حفظ او مغزو ته سپارلو ولاړه وي، د ژوند په عملي چارو کې ډېرې وخت د ژبې کارول محدودوي. د تدریسي اصولو له مخې، پیاوړي درسي مواد پر درک، تمرین او عملي کارولو تمرکز کوي.

د زده‌کړې دغه ډول مواد لاندې ځانګړتیاوې لري:

- زده‌کوونکي هڅوي چې فکر وکړي، پرېکړه وکړي او ځواب ورکړي
- د ستونزو د حل او پرېکړې کولو وړتیاوې پیاوړې کوي
- زده‌کوونکو ته زمینه برابروي چې خپلې تجربې او نظرونه شریک کړي
- د خبرو اترو له لارې د هغوی پر ځان باور زیاتوي

دا ډول تدریس زده‌کوونکي چمتو کوي چې په ورځني ټولنیز او اداري ژوند کې په خپلواکه توګه خپلې چارې ترسره کړي.

### د پیاوړتیا مفکوره په عمل کې (The Empowerment Concept in Practice)

پیاوړتیا د باکیفیته پداګوژۍ مهمه برخه ده. دا مانا لري چې زده‌کوونکي د زده‌کړې په بهیر کې وهڅول شي څو د زده‌کړې له محتوا سره فعال تعامل ولري، نه دا چې یوازې یې تکرار کړي.

**د پیاوړتیاوو فعالیتونو بېلګې:**

- په دیالوګ کې د سم ځواب موندل
- د لارښودونکو دندو (guided tasks) په مرسته د ورځنیو ستونزو حل
- د بېلابېلو حالاتو او موقعیتونو لپاره د سمو ګامونو ټاکل
- په ملاتړ سره د فورمو او معلوماتي ورقو ډکول

دا تمرینونه زده‌کوونکو ته دا باور ورکوي چې دوی کولی شي په اروپا کې د خپل ژوند چارې په ښه توګه پر مخ بوځي.

## ځو حسي او منظم درسي ډیزاین (Multi-sensory & Structured Learning Design)

اغېزمن درسي مواد باید د زده‌کوونکو بېلابېلو زده‌کړیزو طریقو ته پام وکړي او ځو حسونه په کار واچوي. دا کار په ځانګړي ډول د هغو لویانو لپاره مهم دی چې د لوست او لیک وړتیاوې یې محدودې وي.

### بصري زده‌کړه (Visual) :

- چارټونه، نښې او روښانه انځورونه
- د ګرامر او لغتونو رنګه وېش
- د انځورونو په مرسته د ژوند د ریښتینو حالاتو بیان

### سمعي زده‌کړه (Auditory) :

- د QR کوډونو له لارې د غږیزو خبرو او متنونو اورېدل
- روښانه تلفظ په طبیعي سرعت سره
- د اورېدو او ویلو تکراري تمرینونه

### حرکتي زده‌کړه (Kinesthetic) :

- رول لوبول (لکه د ډاکټر سره خبرې یا د کار مرکه)
- په ټولګي کې حرکت او ګډ کار
- عملي فعالیتونه لکه د خبرو کارتونه ترتیبول او وېشل

دا ګډه طریقه د پوهې، یادښت او د زده‌کوونکو دلچسپي پیاوړې کوي

## دزده کړې پراوونه او تدریجي پرمختګ (Scaffolding)

ګام په زده‌کړه دا یقیني کوي چې زده‌کوونکي ډېر نه ستړي کېږي او ورو ورو پرمختګ کوي. کارونه باید له اسانه څخه پېچلي ته ولاړ شي.

اغېزمنه ګام په ګام زده کړه کې لاندې ټکي شته :

- لومړی دبنسټیزو یا مهم لغتونوښودل بیا بشپړه جملې
- لومړی بېلګې وړاندې شي بیا زده‌کوونکي پخپله تمرین وکړي
- له لارښوونکي او معلوماتی تمرین څخه ازادې خبرې ته تګ
- مهم مفاهیم په بېلابېلو حالتونو کې تکرارول

دا تدریجي پرمختګ د زده‌کوونکو ناهیلی کموي او اوږدمهاله زده‌کړه پیاوړې کوي.

## د کیفیت نښې Quality Indicators

تعلیمي مواد هغه وخت باکیفیته وي کله چې:

- زده‌کوونکي فعاله برخه واخلي، نه دا چې یوازې مواد مغزو ته وسپاري
- د زده‌کوونکو خپلواکي او باور زیات کړي
- ځو حسي زده‌کړه پکې شامله وي
- روښانه او تدریجي پرمختګ ولري
- زده‌کوونکو ته دا وړتیا ورکړي چې ژبه په ریښتیني یا عملي ژوند کې وکاروي



## ښوونيز کيفيت اوجنسيتي ليدلورى- لنډيز، Pedagogical Quality and Gender Perspective - Summary

ښوونيز يا پيداګوژيکي وړتياوې او د فعالي زده کړې طريقې/ميتودونه د ستونزو سره مخ زده‌کوونکو د پياوړتيا لپاره، په ځانګړي ډول د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره، ډېر مهم رول لري. په اروپا کې د افغان زده‌کوونکو لپاره، زده کړه يوازې د پوهې ترلاسه کول نه دي، بلکې د باور بيا رغول، د ټولنيز کېدون پياوړتيا، او د ادغام او شخصي پرمختګ لپاره اسانتياوې هم برابروي. ټول‌شموله تدريسي طريقې دا يقيني کوي چې د زده کړې چاپېريال د ټولو لپاره خوندي، درناوی‌لرونکی او د لاسرسي وړ وي، پرته له دې چې د هغوی تعليمي شاليد، جنس، د سواد کچه يا د کډوالۍ تجربه څه ده.

د دې مطلب يو مهم پيغام دا دی چې په اغېزمن تدريس کې يوازې د مضمون پوهه بسنه نه کوي، بلکې تدريسي يا پيداګوژيک حساسيت او د زده‌کوونکو د بېلابېلو اړتياوو درک هم اړين دی. ډېر افغان بالغ زده‌کوونکي له داسې خنډونو سره مخ دي لکه نيمګړې زده کړې، د ژبې ستونزې، د کډوالۍ له امله رواني فشارونه، يا د رسمي زده کړې له چاپېريال سره ناآشنايي. نو ښوونکي او روزونکي بايد داسې انعطاف‌منونکې طريقې وکاروي چې روښتيا، خواخوږي او د زده‌کوونکو فعال ګډون ته لومړيتوب ورکړي.

فعاله زده کړه لکه ګروپي بحثونه، د ستونزو حل، رول لوبول او ګډ کارونه (تمرينونه) مرسته کوي چې زده‌کوونکي فعال ګډونوال شي، نه يوازې منفعل اورېدونکي. دا ميتودونه د انتقادي فکر د ودې او پر ځان د باور د زياتېدو سبب ګرځي. همداراز، دا ډول طريقې له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې نوې زده کړې د خپل واقعي ژوند له تجربو سره وتړي.

ټول‌شموله پيداګوژي همدارنګه ټينګار کوي چې د زده‌کوونکو پخوانۍ پوهه او کلتوري شاليد ته ارزښت ورکړل شي. افغان ټولنه بډايه تجربې، دودونه او مهارتونه لري چې د زده کړې په بهير کې ګټور تماميږي. کله چې ښوونکي زده‌کوونکو ته دا فرصت ورکړي چې خپلې تجربې او نظرونه شريک کړي، زده کړه لا معنا لرونکې او د ګډون وړ ګرځي. دا کار د ټولګي دننه متقابل درناوی پياوړی کوي او د يو بل سره د تړاو احساس زياتوي، چې دا د هغو زده‌کوونکو لپاره ډېر مهم دی چې په نوې ټولنه کې ځان منزوي احساسوي.



سربېره پر دې، د زیانمنونکو زده‌کوونکو د پیاوړتیا لپاره د جنسیت برابرۍ او زده‌کړې ته د اسانه لاسرسي ځانګړې پاملرنه اړینه ده. ښځې، په ځانګړي ډول په کډوالو ټولنو کې، له ګڼو ستونزو سره مخ وي لکه د ماشومانو پالنه، ټولنیز فشارونه او د زده کړې محدود فرصتونه. له همدې امله، ټول‌شموله تعلیمي طریقې باید داسې چاپېریال برابر کړي چې ښځې په کې د خوندیتوب احساس وکړي، د هغوی غږ واورېدل شي او د هغوی اړتیاوو ته پام وشي. انعطاف‌من وختونه، کلتوري پلوه مناسب مواد او د ملګرو ترمنځ زده کړه کولی شي د ښځو ګډون زیات کړي.

بله مهمه برخه دا ده چې بېلابېل تدریسي وسیلې او طریقې وکارول شي. انځورونه، ساده ژبه، کیسې او ډیجیټلي وسیلې کولی شي زده کړه د بېلابېلو سواد کچو او د زده کړې ډولونو لپاره اسانه کړي. له عملي او بصري بېلګو سره د فعالې زده کړې تړاو پېچلي مفاهیم ساده او د پوهېدو وړ ګرځوي او د ورځني ژوند له اړتیاوو سره یې ونښلوي. دا ډول چلند، چې له عصري ښوونیزو چوکاټونو سره همغږي دی، پر زده‌کوونکي او د پوهېدو پر څو اړخیزو لارو ټینګار کوي.

د یادونې وړ ده چې ښوونکي هم باید تل خپل تدریسي کار وارزوي او د هغه کیفیت لوړ وساتي. د ستونزمنو زده‌کوونکو ښوونه زغم، بدلون/ انعطاف او دوامدارې زده کړې ته اړتیا لري. هم د زده‌کوونکو او هم د ښوونکو هڅې په دې برخه کې مهمې دي. د سازمانونو/ مؤسسو ترمنځ د تجربو شریکول، د غوره تدریسي لارو چارو راکړه ورکړه او د موادو ارزونه کولی شي د ښوونکو وړتیاوې پیاوړې کړي.

په پای کې، پیداګوژیکي وړتیاوې او د فعالې زده کړې میتودونه د پیاوړتیا ځواکمنې وسیلې دي. کله چې ستونزمنو زده‌کوونکو ته فرصت ورکړل شي چې په فعاله توګه برخه واخلي، خپل نظرونه څرګند کړي او عملي مهارتونه زده کړي، نو هغوی نه یوازې پوهه ترلاسه کوي بلکې ډاډ او خپلواکي هم ځانته کوي. زده کړه بیا د بدلون یو بهیر ګرځي چې د شخصي ودې، ټولنیز ګډون او بریالي ادغام ملاتړ کوي.

د ټول‌شموله او ډلئیز تدریسي میتودونو له لارې، په اروپا کې مېشت افغان دیاسپورا ټولنې کولی شي داسې تعلیمي چاپېریال رامنځته کړي چې هر زده‌کوونکی پکې د درناوي، ملاتړ او ټولنې کې د غړیتوب احساس وکړي. دا هڅې نه یوازې د افرادو پیاوړتیا ته مرسته کوي، بلکې په ټوله اروپا کې د یوې پیاوړې او پراخ بنسټه ټولنې په جوړولو کې هم مهم رول لوبوي.



## ۴. فرهنګی او ټولنیز اهمیت Cultural and Social Relevance

فرهنګي او ټولنیز اهمیت دا معنا لري چې د ښووني او زده کړې مواد باید هم د افغانانو فرهنګي هویت ته درناوی وکړي او په ورته مهال د اروپا د ټولنیز ژوند واقعیتونه هم وښيي. زده‌کړه هغه وخت اغېزمنه ده چې نوې پوهه د زده‌کوونکو له پېژندل شویو ارزښتونو، تجربواو ټولنیزو اصولو سره تړاو ولري. دا ډول مواد زده‌کوونکو ته داسې احساس ورکوي چې دوی ته پاملرنه کېږي، درناوی ورته کېږي او ځان د بهیر یوه برخه ګڼي چې دا د دوی د هڅې اووندې اخیستنې یوقوي بنسټ را منځته کوي.

موخه

هدف دا دی چې د زده‌کوونکو فرهنګ او دودونه د اروپا له نوي ټولنیز چاپېریال سره وصل کړي او په ټولنه کې ادغام پر مهال د فرهنګي هویت ساتنه تضمین کړي.

### بنسټیزاصول Core Principles

د کیفیت لوړ ښوونیز موادو لپاره باید:

- د افغانانو فرهنګ، دودونه او ټولنیزو ارزښتونو ته درناوی وشي
- له حساس او ټول شموله ژبې څخه استفاده وشي
- له داسې محتوا چې دمخه ناسم قضاوت stereotype اوسپکاوي کې لیدل، باید ډډه وشي.
- کرامت، د تړاویا تعلقیت احساس اود یوبل درناوی غښتلی کړي
- زده‌کوونکي ځان د افغان او اروپایي ټولني فعال غړي وپېژني

### د مثبتو ټولنیزو ارزښتونو رواجول

مواد باید زده‌کوونکي وهڅوي چې:

- متقابل درناوی او زغم ولري
- د جنسیت برابري او د ټولو ګډون ته وده ورکړي
- ټولنیز پیوستون او په ټولنه کې فعاله برخه ولري
- اړیکي موندل او ټینګول  او له درناوي سره ګډ کار ته ملاتړل

دغه ارزښتونه هم د فرد  پیاوړتیا لا غښتلې کوي او هم په ټولنه کې بریالی ادغام تضمینوي.

**د ریښتیني ټولنیز ژوند انځور**

زده‌کړیز مواد باید هغه ورځني حا لتونه او پېښې وښئیي چې د اروپا په هېوادونو کې افغان لویان ورسره مخ کېږي، لکه:

له روغتیایی مرکزونو او روغتونونو څخه لیدنه

له ښوونځیو او ښوونکو سره اړیکه او خبرې

په کاري چاپېریال کې تعامل اود مسلکي ادب  مراعاتول

په ټولنیز او مدني ژوند کې ګډون

د ریښتیني مثالونو کارول زده‌کړه اړونده اوخپله کوي او د زده‌کوونکوپوهه او پر خپل ځان اعتماد  زیاتوي.

**د اروپایي سیستمونو سره اشنایي/ موقیعیت پېژنده**

کیفیت لرونکي مواد باید د سیستمونو د کار کولو څرنګوالی او علتونه واضح کړي. مثالونه  عبارت دي له:

د وخت پوره مراعاتول په ښوونه او کار کې

په کاري چاپېریال کې اساسي حقونه او مسؤلیتونه

د روغتیایي، تعلیمي او عامه خدماتود فعالیتو څرنګوالی

روښانه لارښونه او وضاحت زده‌کوونکي له مغشوش حالت څخه ژغوري او ته اجازه ورکوي چې په ټولنه کې په باور او مسؤلیت سره برخه واخلي.

**دینی او فرهنګي حساسیت  Religious and Cultural Sensitivity**

مواد باید:

د اسلامي ارزښتونو او مناسکونو احترام وکړي

د قضاوت نه کولو اوټول شموله ( د ټولو زده کونکولپاره د پوهې وړ) ژبې څخه استفاده وکړي

د اروپایي بنسټونو سکولارمفهوم په درناوي تشریح کړي

فرهنګي توپیرونه دلانجي په توګه ونه ښیي

دغه چلند درناوی، پوهه او سوله‌ییز ګډ ژوند پیاوړی کوي.

**له کلیشې ( ستریو ټایپ) او تعصب څخه ډډه**

زده‌کړیز مواد باید:

زده کونکی له منفي انځورجوړونې( ټاپه وهنې) یا ساده فکری وساتي

توپیري چلندونه یا زیان رسونکي دودونه پیاوړي نه کړي

د افغان او اروپایي ټولنو تنوع څرګنده کړي

انتقادي تفکر ته وده ورکړي او له فرهنګي قضاوت( حکم) څخه ډډه وکړي

**د کیفیت بیان( څرګندونه)**

فرهنګي او ټولنیز اړوند تعلیمي  مواد د زده‌کوونکو د ځان ښکېلتیا ، کرامت اود هڅونې احساس زیاتوي، د هغوی معنا لرونکی ګډون پیاوړی کوي او زده‌کړه د ژوند ریښتینو تجربو سره تړي.

# په اروپا کې د بالغوافغانانو لپاره د زده کړې کلتوري او ټولنيزتړاو Culturally and Socially Relevant Education for Afghan Adults in Europe

د افغان بالغو لپاره د زده‌کړې کلتوري او ټولنيز تړاو د اغېزمنو تعليمي موادو د جوړولو بنسټيز اصل دی. دا ډاډ ورکوي چې زده‌کړيز محتوا نه يوازې پوهه او معلومات لېږدوي، بلکې د زده‌کوونکو د کلتوري هويت او د هغوی د نوي ټولنيز چاپېريال ترمنځ يو معنادار اړيکه هم رامنځته کوي. د ډېرو افغان کډوالو او مهاجرينو لپاره، زده‌کړه دوه‌ګونی رول لري: له يوې خوا د اروپايي ټولنو د ادغام له پروسې سره مرسته کوي، او له بلې خوا په هغوی کې د هويت، وقار او تړاو احساس پياوړی کوي. کله چې تعليمي مواد هم له اشنا کلتور او ارزښتونو سره او هم د ژوند له ريښتينو ټولنيزو شرايطو سره تړاو ولري، نو زده‌کړه يوه متوازنه او پياوړې تجربه ګرځي.

له کلتور او ټولنې سره تړلې زده‌کړې په زړه کې د زده‌کوونکو هويت او کلتوري ارزښتونو ته درناوی پروت دی. افغان بالغ زده‌کوونکي له ځان سره ژور کلتوري ارزښتونه، دودونه او باورونه راوړي چې د نړۍ او چاپېريال په اړه د هغوی فکري ليد جوړوي. هغه تعليمي مواد چې دې کلتوري او اعتقادي عناصرو ته درناوی کوي او هغوی په رسميت پېژني، په زده‌کوونکو کې باور پياوړی کوي او د زده‌کړې په بهير کې د هغوی فعال ګډون ته وده ورکوي. کله چې زده‌کوونکي احساس کړي چې د هغوی هويت، عقيدې او تجربو ته درناوی کېږي او نه له پامه غورځول کېږي او نه بدلول کېږي، نو هغوی زده‌کړې او نوي چاپېريال ته د همغږۍ لپاره لا چمتو کېږي. دا ډول درناوی او پاملرنه د زده‌کوونکو هڅونه زياتوي، د خونديتوب احساس پياوړی کوي، او داسې چاپېريال رامنځته کوي چې زده‌کوونکي پکې ځان ارزښتمن او فعال برخه‌وال احساس کړي.

همدارنګه مهمه ده چې تعليمي مواد د هغو واقعي ټولنيزو حالاتو انعکاس وکړي چې زده‌کوونکي په اروپا کې ورسره مخ کېږي. بالغ افغانان بايد له بېلابېلو ورځنيو ننګونو سره ځان عيار کړي، لکه روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی، له ښوونځيو سره اړيکې جوړول، د کار په ځای کې ګډون، او په ټولنيزو فعاليتونو کې برخه اخيستل. هغه مواد چې واقعي او د ژوند سره تړلې بېلګې وړاندې کوي، زده‌کوونکو ته عملي مهارتونه ورزده کوي چې هغوی يې سمدستي په ورځني ژوند کې کارولی شي. له عيني شرايطو سره د زده‌کړې دا تړاو نه يوازې پوهه او درک زياتوي، بلکې د نوې ټولنې سره د اغېزمن تعامل لپاره د هغوی باور هم پياوړی کوي.

همدارنګه، کلتوري او ټولنيزو اړتياوو ته پاملرنه د اروپايي سيستمونو او ارزښتونو د تشريح لپاره يو متوازن او محتاط چلند ته اړتيا لري. زده‌کوونکي بايد پوه شي چې تعليمي، روغتيايي او کاري سيستمونه څنګه کار کوي، او دا چې ولې په ځانګړي ډول تنظيم شوي دي. د بېلګې په توګه، د وخت پابندي، فردي مسؤليت او اداري پروسې کېدای شي له هغه څه سره توپير ولري چې زده‌کوونکي ورسره عادت دي. کله چې دا توپيرونه په روښانه، درناوي او بې‌پرې ډول تشريح شي، نو زده‌کوونکي کولای شي ښه ځان عيار کړي او په نوي چاپېريال کې په اغېزمن ډول برخه واخلي. دا ډول چلند د بريالي ټولنيز ادغام ملاتړ کوي، خو په ورته وخت کې کلتوري تنوع ته هم درناوی ساتي.

بله مهمه برخه د مثبتو ټولنیزو ارزښتونو وده ده. تعلیمي مواد باید په فعاله توګه متقابل درناوی، زغم، د جنسیت برابري، او د ټولو ګډون ته وده ورکړي. دا ارزښتونه د متوازنو، متحدو او سوله‌ییزو ټولنو د جوړولو لپاره اړین دي. کله چې په موادو کې نارینه او ښځې په فعال او برابر ډول وښودل شي، او درناوی لرونکې اړیکې او همکاري وهڅول شي، نو یو ټول‌شموله او پیاوړی زده‌کړیز چاپېریال رامنځته کېږي. دا په ځانګړي ډول د هغو زده‌کوونکو لپاره مهم دی چې ښایي له ټولنیزو، کلتوري یا کورنیو خنډونو سره مخ وي.

دیني او کلتوري حساسیت هم د ښوونیزو موادو کیفیت او د منلو کچه لوړوي. د افغان زده‌کوونکو لپاره، دین د ورځني ژوند او هویت مهمه برخه ده. هغه مواد چې اسلامي ارزښتونو ته درناوی کوي او په عین وخت کې د اروپایي سکولر (غیردیني) بنسټونو تشریح په درناوي سره کوي، زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې د پوهې تشې راکمې کړي او توپیرونه ښه درک کړي. د بې‌پرې، ټول‌شموله او غیرقضاوتي ژبې کارول دا یقیني کوي چې زده‌کوونکي له کلتوري او ټولنیزو توپیرونو سره په درناوي او باور چلند وکړي.

له تعصبونو او کلیشو (ټاپه وهلو) څخه ډډه کول د تعلیمي موادو د اعتبار لپاره حیاتي دي. د افغان یا اروپایي کلتورونو په اړه ساده یا منفي انځورونه کولای شي د ناسمې پوهې او نه لېوالتیا لامل شي. لوړ کیفیت لرونکي مواد باید د دواړو ټولنو دننه تنوع وښيي او بېلابېل نظرونه، تجربې او د ژوند طریقې منعکس کړي. د قضاوت پر ځای د انتقادي فکر هڅونه له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې کلتوري توپیرونه په رغنده ډول وڅېړي.

په پای کې، له کلتور او ټولنې سره تړلي تعلیمي مواد د تېر، اوسني او راتلونکي ترمنځ یو پُل جوړوي. دا ډول مواد زده‌کوونکو ته دا توان ورکوي چې خپل کلتوري هویت وساتي او په ورته وخت کې هغه پوهه او وړتیاوې ترلاسه کړي چې په نوي چاپېریال کې بریالي شي. د تېر کلتور درناوی او د نویو ټولنیزو ارزښتونو ترمنځ تعادل د فردي پیاوړتیا او ټولنیز ادغام یو مهم اصل دی.

کله چې تعلیمي محتوا د زده‌کوونکو له کلتوري ارزښتونو او ټولنیزو تجربو سره همغږې وي، نو دا یوازې معلومات نه وي، بلکې یوه معناداره، زړه‌راښکونکې او بدلون راوستونکې تجربه ګرځي. دا ډول مواد د تړاو او پر ځان د باور احساس پیاوړی کوي، د زده‌کړې هڅونه زیاتوي، او د ټولنې په ژوند کې د فعال ګډون ملاتړ کوي. د اروپا په کچه د افغان دیاسپورا ټولنو لپاره، دا چلند د داسې تعلیمي چاپېریالونو د رامنځته کېدو لامل کېږي چې هم ټول‌شموله، هم درناوی لرونکي او هم پیاوړي وي— او دا د فردي ودې او د ټولنې د دوامدارې پراختیا لپاره مهم دي




# ۵. تدریسي/ښوونیز جوړښت اود صفحې بڼه/ډیزاین Didactic Structure & Layout

## د زده کړې توکو جوړښت اود صفحې بڼه/ډیزاین څه ته وایي؟

ښوونیز جوړښت او پاڼې مخ طرح دې ته وایي چې د زده کړې مواد څنګه تنظیم، ترتیب او په ظاهري ډول وړاندې کېږي، څو زده کړه اسانه او اغېزمنه شي. د افغان لویانو زده کوونکو لپاره — په ځانګړي ډول هغو کسانو لپاره چې د سواد کچه یې بېلابېله ده—روښانه جوړښت او ساده بڼه ډېر مهم دي. دا کار د دې سبب کېږي چې هغوی موضوع ښه درک کړي، پر ځان باور پیدا کړي او په خپل سر زده کړه وکړای شي.

ښه طرحه او ځای پر ځای شوي مواد ګډوډي کموي او زده کوونکي له دې ژغوري چې د شکل او ترتیب له ستونزو سره لاس او ګرېوان شي، بلکې تمرکز یې پر زده کړې پر اصلي محتوا وي.

موخه
د ذهني فشار کمول او د داسې منظم، ساده او زده کوونکي-محوره جوړښت له لارې د زده کړې ملاتړ کول.

### بنسټیز جوړښتي اصلونه

ښه کیفیت لرونکي مواد باید:

- روښانه او منطقي جوړښت ولري
- څرګندې برخې، سرلیکونه او د زده کړې مشخص واحدونه ولري
- مطالب په کوچنیو او اسانو برخو کې وړاندې کړي
- له ډېرې ګڼې ګونې او اوږدو متنونو ډډه وکړي
- سرتر پایه موادو کې یو شان بڼه،او د توکو ترتیب یا قالب جوړونه وساتي

روښانه جوړښت/ چوکاټ او ډیزاین/ له زده کوونکو سره مرسته کوي چې پوه شي څه زده کړي، څنګه یې زده کړي او پر کوم ځای تمرکز وکړي.

### د درس منظم څرخ Consistent Lesson Cycle

هره برخه باید یو ثابت اود اټکل وړ ترتیب ولري:

1. چمتووالی (Warm-up) – د پخوانیو معلوماتو او تجربوفعالول
2. ورودي معلومات (Input) – نوې کلمې، مفهومونه یا فني معلومات معرفي کول
3. تمرین (Practice) – کنټرول شوي تمرینونه او لارښود فعالیتونه
4. انتقال (Transfer) – زده کړه د ژوند په واقعي حالتونوکې کارول

دا بهیر/ څرخ د زده کونکو د توکود ښه پوهېدو، په ذهن کې پاتې کېدو اود ژوند په عملي چارو کې د کارونې ملاتړ کوي

## بصري ډیزاین او لاسرسی Visual Design and Accessibility

د لاسرسي وړ ترتیب او ډیزاین/ بڼه د هغو لویانو لپاره چې لږ سواد لري یا د لید ستونزې لري، خورا مهم دي. واضح جوړښت او د پوهېدو وړ قالب مرسته کوي چې زده‌کوونکي پرته له ګډوډۍ د زده‌کړې مواد تعقیب کړي او خپل تمرکز د زده‌کړې پر معنا واچوي.

د لوړ کیفیت زده کړې مواد باید:

- ساده او د لوستلو وړ فونټونه وکاروي چې د پښتواو دري لیکدود لپاره مناسب وي
- د روڼتیا یا وضاحت لپاره سریف پرته فونټونهsans- serif fonts لکه Arial او Calibri غوره کړي
- د فونټ اندازه لږ تر لږه ۱۴ پوینټ یا واحده وي څو د لوستلو وړتیا زیاته شي
- پوره سپین ځای ولري څو له ډیرې ګڼه‌ګوڼې او لیدلو فشار څخه مخنیوی وشي

## د بصري مرستو کارول Use of Visual Aids

بصري عنصرو باید د زده‌کړې ملاتړ وکړي او حسونه ګډوډ نه کړي. اغېزمنه زده‌کړیز توکي باید لاندې ټکي ولري:

- د لارښوونو لپاره آیکونونه او سمبولونه
- د مفهومونو د تشریح لپاره انځورونه او چارټونه
- د معلوماتو د تنظیم لپاره جدولونه او چارټونه
- د مهمو ټکو د روښانه کولو لپاره رنګونه

د بصري عنصرو کارول په ځانګړي ډول د لږسواد یا نیمګړي سواد زده‌کوونکو لپاره خورا مهم دي.

## د درسي واحد برخې Unit Components

د زده‌کړې هر واحد باید په څرګند ډول لاندې برخې ولري :

- د زده‌کړې موخې
- اصلي محتوا
- تمریني فعالیتونه
- خلاصه او مهم ټکي

دا جوړښت زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې پرمطالب نظر واچوي او خپل درک پیاوړی کړي.

## یو شانوالی او لارموندنه Consistency and Navigation

د پاڼې د مخ لوړ کیفیت بڼه دا یقیني کوي چې:

- نښې او سمبولونه په یو شان ډول وکارول شي
- سرلیکونه او تمرینونه په یو منظم او یوشان بڼه وړاندې شي
- د پاڼو او درسي واحدونو ترمنځ روښانه لارموندنه شتون ولري

یو شانوالی د موادو کارول اسانه کوي او د زده کوونکو ناارامي او ستونزې کموي

## د کیفیت څرګندونه Quality Statement

پیاوړی ښوونیز جوړښت اولاسرسي وړ بڼه/ ترتیب:

- د پوهېدو کچه لوړوي
- ذهني فشار کموي
- د زده کوونکي خپلواکي پیاوړې کوي
- باور او هڅونه زیاتوي

روښانه جوړښت د خپلواکي او په ډاډه زړه زده کړې ملاتړ کوي

## د لاسرسي وړ او ټولشموله زدهکړې طرحه کول: په اروپا کې د افغان لویانو لپاره درسي جوړښت Designing Accessible and Inclusive Learning: Didactic Structure for Afghan Adult Education in Europe

### د تدریس اصول، جوړښت او د بڼې څرنګوالی (Layout)

د تدریس اصول، جوړښت او د بڼې څرنګوالی (Layout) د اغېزمنو او ټولشموله تعلیمي موادو په جوړولو کې خورا مهم عناصر دي، په ځانګړي ډول د هغو افغان لویانو لپاره چې په اروپا کې ژوند کوي. دا عناصر یوازې دا نه ټاکي چې محتوا څنګه وړاندې کېږي، بلکې دا هم څرګندوي چې زدهکوونکي یې څومره په اسانه درک، تعقیب او عملي کولی شي. د هغو زدهکوونکو لپاره چې بېلابېل تعلیمي شالیدونه لري—په ځانګړي ډول هغه کسان چې سواد یې محدود دی یا زدهکړه یې نیمګړې پاتې شوې—یو روښانه او منظم جوړښت ډېر اړین دی. کله چې مواد په غور او ځیر سره طرحه شي، ګډوډي کموي، د مفاهیمو پوهه زیاتوي او زدهکوونکي دې ته هڅوي چې په ډاډه توګه د زدهکړې په بهیر کې برخه واخلي.

یو پیاوړی تدریسي جوړښت زدهکوونکو ته د منځپانګې له لارې روښانه لاره برابروي. کله چې مواد په منطقي برخو، څرګندو سرلیکونو او کوچنیو، مدیریت کېدونکو واحدونو ووېشل شي، زدهکوونکي ښه پوهېږي چې څه زده کوي، ولې دا مهم دي، او هره برخه څنګه له ټولیز مفهوم سره تړاو لري. دا روښانتیا د بالغانو لپاره ځانګړې اهمیت لري، ځکه چې هغوی کېدای شي په رسمي زدهکړیزو چاپېریالونو کې ځان ډاډمن احساس نه کړي. منظم جوړښت د ذهني فشار (cognitive overload) مخه نیسي او زدهکوونکو ته اجازه ورکوي چې پر مانا تمرکز وکړي، نه دا چې له ګډوډو او پېچلو معلوماتو سره بوخت شي.

د درس یو منظم چوکاټ او تکرارېدونکی بهیر (څرخ) هم د زدهکړې تجربه پیاوړې کوي. هغه لړۍ چې د ذهن له تودولو (warm-up) څخه پیلېږي، بیا د نوو معلوماتو وړاندې کول (input)، تمرین (practice)، او په واقعي ژوند کې عملي کول (application) تعقیبوي، له دې سره سمون لري چې بالغ زدهکوونکي څنګه په طبیعي ډول زدهکړه کوي. د درس په پیل کې د پخوانۍ پوهې راژوندي کول مرسته کوي چې زدهکوونکي نوې مفکورې له خپلو تجربو سره وتړي. د نویو مفاهیمو ساده او روښانه وړاندې کول پوهه اسانه کوي، د لارښوونې پر مټ تمرین یې ټینګوي، او په پای کې د پوهې عملي کول زدهکړه د ورځني ژوند سره تړي. دا منظم پرمختګ د معلوماتو یادښت پیاوړی کوي، پر ځان ډاډ زیاتوي او زدهکوونکو ته دا توان ورکوي چې خپل مهارتونه له ټولګي بهر هم وکاروي.

د تعلیمي موادو ظاهري بڼه (بصري طرح) هم همدومره مهمه ده. د طرحې لاسرسی یوازې ښکلا نه ده، بلکې په مستقیم ډول د زدهکوونکو د زدهکړې پر بهیر اغېزه کوي. روښانه لیک (فونټ)، د تورو مناسبه اندازه، او د کرښو او برخو ترمنځ کافي فاصله لوستل اسانه او خوندور کوي. د پښتو او دري ویونکو لپاره د لوستلو وړ او اشنا فونټونه ټاکل ځانګړې اهمیت لري. پاک او منظم ډیزاین، تورو ترمنځ مناسبې تشې (white space) سره، د سترګو ستړیا کموي او زدهکوونکو ته اجازه ورکوي چې معلومات په پراوونو کې وارزوي او ښه یې درک کړي.

بصري وسیلې (لکه انځورونه، نښې، سمبولونه او ډیاګرامونه) د پوهې په پیاوړتیا کې مهم رول لري، په ځانګړې ډول د هغو زده‌کوونکو لپاره چې د سواد کچه یې ټیټه وي یا زده‌کړه یې نوې پیل کړې وي. دا وسیلې ډېر ځله مفاهیم داسې په چټکۍ انتقالوي چې یوازې متن یې نه شي کولای. کله چې دا وسیلې په سمه توګه وکارول شي، زده‌کړه لا تعاملي او په زړه پورې کېږي. خو باید هدفمندې وي، نه دا چې یوازې د ښکلا لپاره وکارول شي او ګډوډي رامنځته کړي یا د زده‌کوونکو پام له اصلي موضوع واړوي. ښه طرحه شوي بصري عناصر د زده‌کوونکو پام مهمو ټکو ته را اړوي او اصلي مفاهیم ټینګوي.

د زده‌کړې موادو په طرحه کې ثبات (consistency) هم ډېر مهم دی. کله چې زده‌کوونکي تکراري بڼې ویني—لکه یو شان نښې، منظم سرلیکونه، او ورته تمریني فورمټونه—نو د موادو کارول ورته اسانه کېږي. دا ثبات د دې اړتیا کموي چې زده‌کوونکي خپله انرژي د موادو د کارولو په څرنګوالي مصرف کړي؛ پر ځای یې هغوی کولای شي پر محتوا تمرکز وکړي. روښانه لارښوونې د پاڼو او درسونو ترمنځ زده‌کوونکو ته دا وړتیا ورکوي چې په خپلواکه توګه زده‌کړه وکړي، پخواني موضوعات بیا وګوري، او په خپله چټکۍ پرمختګ وکړي.

هر درسي واحد باید مهم عناصر ولري: روښانه موخې، اصلي محتوا، تمریني فعالیتونه، او د مهمو ټکو لنډیز. دا جوړښت نه یوازې د درس پر مهال مرسته کوي، بلکې بیاکتنې او تفکر ته هم زمینه برابروي. کله چې زده‌کوونکي په اسانه وپېژني چې څه یې زده کړي او دا څنګه د هغوی له ژوند سره تړاو لري، نو د بریا احساس او هڅونه یې زیاتېږي. منظم واحدونه یوه بشپړه او همغږې زده‌کړه رامنځته کوي چې پوهه او یادښت دواړه پیاوړي کوي.

په پایله کې، اغېزمن تدریسي جوړښت او مناسب ډیزاین د زده‌کوونکو د پیاوړتیا (empowerment) لپاره ډېر ارزښت لري. کله چې معلومات په ساده، منظم او د لاسرسي وړ ډول وړاندې شي، زده‌کړه لا ټولشموله او اغېزمنه کېږي. زده‌کوونکي په ډاډه توګه مواد لولي، نوې مهارتونه تمرینوي او په واقعي ژوند کې د خپلې پوهې کارولو ته جرأت پیدا کوي.

د افغان دیاسپورا د زده‌کړې په چاپېریال کې—چېرې چې زده‌کوونکي له ګڼو ستونزو سره مخ وي—روښانه جوړښت او د لاسرسي وړ ډیزاین ځانګړی اهمیت لري. ښه طرحه شوي مواد نه یوازې د زده‌کړې پایلې ښه کوي، بلکې عزت، پر ځان ډاډ او فعال ګډون هم پیاوړی کوي. دا ډول زده‌کړه یو ملاتړی او ځواکښونکی بهیر ګرځي چې زده‌کوونکو ته دا وړتیا ورکوي چې د خپلې زده‌کړې مشري پخپله واخلي او په خپلو نویو ټولنیزو او تعلیمي چاپېریالونو کې فعاله ونډه واخلي



## ۶. درسي مواد څومره کره/ دقيق او اړوند يا مرتبط دي Accuracy & Relevance

### معنا يې څه ده؟

دقت او اړونتيا هغه کچه ښيي چې تر کومه بريده تدريسي اود زده‌کړې مواد په واقعي ډول سم، تازه او د زده‌کوونکو د ورځني ژوند اړتياوو او شرايطو سره اړوند دي. د هغو افغان لويانو لپاره چې په اروپا کې ژوند کوي، کره معلومات ډېر مهم دي، ځکه چې دا د باور جوړولو، خونديتوب او اغېزمنې ادغام لپاره بنسټيز رول لري.

ناسم، زاړه يا ګمراه کوونکي معلومات کولی شي ګډوډي رامنځته کړي، پر ځان ډاډ کم کړي، او د زده‌کوونکو پر ورځني ژوند منفي اغېزه وکړي.

### موخه

دا يقيني کول چې ټول وړاندې شوي معلومات کره، د قانوني پلوه هخوندي اوزده کونکو د ژوند د شرايطو سره سم وي څو زده‌کوونکي وکولای شي پرېکړې وکړي او مانادارہ زده‌کړه تر لاسه کړي.

### اساسي اصلونه

لوړ کيفيت لرونکي مواد بايد:

- کره او له تېروتنو پاک معلومات ولري
- له ژبنيز مفهومي او معلوماتي پلوه بلکل سم او ډاډمن وي
- زاړه، ګمراه کوونکي يا نامناسب معلومات ونه لري
- د زده‌کوونکو د واقعي ژوند او عملي اړتياوې او حالتونه منعکس کړي
- د زده کونکو د باور د رامنځته کولو لپاره پر اعتبار او شفافيت ولاړ وي

په درسي موادوکي دقت/ دهغوی ريښتنوالي ته پوره پاملرنه اختياری نده—دا د لويانو په زده‌کړه کې يوبسټيز مسؤليت دی.

### له اروپايي شرايطو سره همغږي

تدريسي او زده‌کړيز مواد بايد له لاندې مواردو سره همغږي وي:

- په اروپا کې د لويانو د زده‌کړې اصولو سره
- د ادغام او ټولشمولتوب (Inclusion) چوکاټوسره
- داوسني ټولنيز، کلتوري او اداري وشرايطواو کړنو سره

کله چې د زده کړې توکي له پورته شرطونو سره هغمږي وي نو زده‌کړه د زده کونکو فعال او ډاډمن ګډون په اروپايي ټولنو کې په عملي ډول يقيني کوي.

### حقوقي او اداري/ موسساتي دقيقتوب يا ريښتنوالی Legal and Institutional Accuracy

هغه مواد چې حقوقي يا د رسمي بستونو موضوعات لري، بايد په ځانګړې پاملرنې سره جوړ شي.

### ښه کيفيت لرونکي مواد بايد:

- د استوګنې، د کار جواز، زده‌کړې، روغتيايی خدمتونه او ټولنيزو مرستو په اړه معلومات وڅېړي او تائيد کړي
- د اړتيا په وخت کې د ۲۰۲۵–۲۰۲۶ اوسني قانونه او مقررات وښيي
- له عمومي معلوماتو پرته له نورو حقوقي مشوره ورکولو. ډډه وکړي

### کېدی شي د زده کړې مواد لاندې ټکي هم ولري:

- د رسمي ادارو د اړيکو معلومات (د تليفون شمېرې، وېب پاڼې)
- د باور وړ نادولتي سازمانونو يا عامه مؤسسو يادونه

دا کار زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې رسمي او د نېټي له پلوه تازه معلومات ترلاسه کړي.

### تازه والی اود ريښتيني ژوند سره تړاو Currency and Real-Life Relevance

د دې لپاره چې د زده کړې لا هم له شرايطواړوند او ګټور پاتې شي، بايد:

- د توکو اوسني بيې، سيستمونه اوچارې (لکه عامه ترانسپورت ا و خدمات) وښيي
- د زړو کتابونو يا پخوانی حالاتو پر بنسټ مثالونه ونه کاروي
- د زده کوونکو د ورځني ژوند واقعي بېلګې وکاروي

تازه معلومات د موادو ګټه او د زده‌کوونکو باور زياتوي.

## د دقیقې او اړونده زده‌کړې له لارې د ډاډ رامنځته کول Building Trust Through Accurate and Relevant Learning

دقیق یا ریښتیا او د ژوند سره اړوندوالی د لوړ کیفیت درسي موادو د چمتو کولو په برخه کې په اروپا کې د افغان لویانو لپاره مهمې ستنې ګڼل کیږي. دغه دوه لاملونه مرسته کوي چې زده‌کړیزه محتوا نه یوازې سمه او د باور وړ وي، بلکې د زده‌کوونکو لپاره معنا ولري او په مستقیم ډول د هغوی د ورځني ژوند سره تړاو ولري. هغو کسانو لپاره چې د نویو ټولنیزو، حقوقي او اداري مؤسسو له کار و بار سره آشنا کیږي، د دقیقو معلوماتو لاسرسی بنسټیز اهمیت لري. یاد معلومات اعتماد رامنځته کوي، شعوري پرېکړې پیاوړې کوي او زده‌کوونکي په اسانۍ سره کولی شي چې په ډاډ سره له هغو ادارو او مؤسسو سره اړیکه ونیسي چې د دوی په ژوند او د ادغام په بهیر اغېز لري.

د اغېزمنې زده‌کړې په مرکز کې د سم او تازه معلوماتو وړاندې کول اړین دي. ناسم یا زاړه معلومات کولی شي د موضوع په اړه جدي غلط فهمي رامنځته کړي، په ځانګړې توګه کله چې ښوونیز توکي د حساسو او مهمو موضوعاتو لکه حقوقي او قانوني معلوماتو، روغتیایي، ټولنیزو خدمتونو او کاري قوانینو په اړه وي. د افغان زده‌کوونکو لپاره چې ممکن د نوي چاپېریال سره د همغږۍ په بهیر کې له ګڼو ننګونو او ګونګو پوښتنو سره مخ وي، باوري معلومات درلودل خورا مهم دي. له همدې امله، ښوونیز مواد باید په ځیر سره چمتو شي، کتنه پرې وشي او بیا تایید شي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې ټول محتوا د ژبې، مفهوم او معلوماتو له پلوه سمه او باوري ده.

د ژوند د واقعیتونو سره اړوندوالی هم د زده‌کړې اغېزمنتیا او په زړه پورې توب لوړوي. ښوونیز محتوا باید د زده‌کوونکو د ژوند پر واقعي وضعیتونو او بېړنیو اړتیاوو تمرکز وکړي، نه پر لانجمنو یا زړو مثالونو. کله چې ښوونیز توکي د عامه خدمتونو د کارولو، د کاري چاپېریال د تمو د پېژندنې یا د ځایي اداري نظامونو د پېژندنې موضوعات پکې شامل وي، زده‌کړه د زده‌کوونکو لپاره ګټوره او عملي کیږي. دا د ژوند سره اړوندوالی د زده‌کوونکو هڅونه زیاتوي او له هغوی سره مرسته کوي چې خپله پوهه د ژوند په ریښتینو شرایطو کې وکاروي، چې په پایله کې د هغوی خپلواکي او اعتماد پیاوړی کیږي.

له اروپایي حالاتو سره همغږي هم د ښوونیزو موادو کیفیت او مؤثریت زیاتوي. افغان زده‌کوونکي نه یوازې اړتیا لري چې نوې ژبې زده کړي، بلکې باید د کوربه هېوادونو له سیستمونو، ننګونو او توقعاتو سره هم آشنا شي. له همدې امله، ښوونیز مواد باید د اوسني ټولنیز وضعیت، چوکاټونو او د اروپا د لویانو د زده‌کړې اصلونه منعکس کړي. دا همغږي مرسته کوي چې زده‌کړه په ټولنه کې د فعال ګډون بهیر ملاتړ وکړي او زده‌کوونکي د ادارو او بنسټونو سره د اغېزمن تعامل لپاره چمتو کړي.

په ښوونیزو موادو کې باید د حقوقي او اداري موضوعاتو ته ځانګړې پاملرنه او دقت وشي. هغه موضوعات لکه د استوګنې حقوقي څرنګوالی، د کار اجازه، روغتیایي حقوق او د ښوونې سیستمونه دقیقو او په پوره ځیر څېړل شویو معلوماتو ته اړتیا لري. ښوونیز مواد باید د عمومي لارښوونې څخه هاخوا ځانګړې حقوقي مشورې ورنکړي، خو په ورته وخت کې باید واضح او د پوهېدو وړ توضیحات زده‌کوونکو ته وړاندې کړي. که ممکنه وي، د رسمي سرچینو لکه دولتي ویب‌سایټونو، عامه ادارو یا باوري سازمانونو پتې او ریفرنس ورکول، د زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې په خپلواکه توګه تازه او د باور وړ معلومات ترلاسه کړي. دا چلند نه یوازې د معلوماتو کره‌والی زیاتوي، بلکې د زده‌کوونکو د معلوماتي سواد او خپلواکی احساس هم پیاوړی کوي.

د ښوونیزو توکو تازه ساتل هم د کیفیت مهمه برخه ده. ټولنیز سیستمونه، قوانین او ورځني شرایط لکه بیې، خدمات او رواني پروسې وخت په وخت بدلېږي. له همدې امله، زده‌کړیز مواد باید په منظم ډول وکتل او تازه شي تر څو تل اړوند او ګټور پاتې شي. د زړو مثالونو، پتو او انټرنټي لینکونو کارول کولی شي د موادو عملي ارزښت کم کړي او زده‌کوونکي له ذهني ګډوډۍ سره مخ کړي. کله چې معلومات د اوسنیو واقعیتونو سره همغږي وي، زده‌کوونکي کولی شي عملي او باوري پوهه ترلاسه کړي چې په خپل ورځني ژوند کې یې وکاروي.

دوامداره ارزونه او سمون هم د ښوونیزو موادو د ریښتیا والي او اړوندوالي ساتلو په موخه خورا اړین دي. لوړ کیفیت لرونکي مواد ثابت نه پاتې کېږي، بلکې د زده‌کوونکو، ښوونکو او مسلکي متخصصینو د نظریاتو پر بنسټ په پرله‌پسې توګه ښه کېږي. زده‌کوونکي کولی شي هغه برخې چې روښانه نه لري یا له اړتیاوو سره تړاو نه لري، په ګوته کړي، په داسې حال کې چې ښوونکي او کارپوهان کولی شي په محتوا کې شته تېروتنې یا نیمګړتیاوې وپېژني. دا ډول ګډ چلند ډاډ رامنځته کوي چې مواد د بدلېدونکو اړتیاوو او شرایطو سره همغږي پاتې شي.

په پای کې، دقیق او اړوند زده‌کړیز مواد د زده‌کوونکو د پیاوړتیا لپاره خورا مهم رول لري. کله چې زده‌کوونکي په ترلاسه شویو معلوماتو باور ولري، په زده‌کړه کې د ګډون هڅه یې ډېرېږي او خپله پوهه په ډاډ سره پلي کوي. د باور وړ منځپانګه د شعوري پرېکړو ملاتړ کوي، ګډوډي کموي او د زده‌کوونکو وړتیا د مختلفو سیستمونو په خپلواکه کارونه کې پیاوړې کوي.

د افغان دیاسپورا د زده‌کړې په اړه هم دقت، یا د موادو ریښتیا والی او د ژوند سره اړوندوالی، یو انتخاب نه دی بلکې یوه اساسي مسؤلیت ګڼل کېږي. دا دوه اصلونه د باوري، مؤثره او معنا لرونکي زده‌کړې بنسټ جوړوي. د دې اصولو په پام کې نیولو سره، ښوونکي او سازمانونه کولی شي داسې مواد چمتو کړي چې نه یوازې معلومات وړاندې کړي، بلکې زده‌کوونکي ځواکمن کړي ترڅو په نوي چاپېریال کې پوهه، دوامداره او خپلواکه ژوند جوړ کړي. دقیق محتوا باور رامنځته کوي او د ژوند چارو سره اړوند محتوا زده‌کړه د عملي او اغېزمنې تجربې په توګه وړاندې کوي.

## د کیفیت تضمین دڅارنې چټکه وسیله (پښتو / دري) Quick Monitoring Tool
### د پښتو و دري زده کړې توکو چک یا ارزونه

**ارزونه په لاندې توګه کیږي:**

هر ټکی معیار ته دغه (√) نښه ورکړئ او ارزونه یې وکړئ

د ارزونې نمرې: 1 = کمزوری | 5 = ډېرښه

**1. آیا مواد هدف ډلې ته مناسب دي Target Group Fit**

□ اسانه د پوهېدو لپاره (کم سواد)
□ د واقعي ژوند سره تړاو (اروپا)
□ ساده ژبه
□ د جنسیت او شمولیت درناوی شوی
□ له بصري وسایلو کار اخیستل شوی

**نمره (1–5): □**

**2. د ژبې کیفیت Language Quality**

□ سمه ګرامر او املا
□ معیاري پښتو/ دري کارول شوې
□ مناسب لغتونه
□ یو شان اصطلاحات
□ په ژبه کې سره درناوی پام شوی

**نمره (1–5): □**

**3. تدریسی کیفیت (پیداګوژي) Pedagogical Quality**

□ فعاله زده کړه (یوازې حفظ نه وي)
□ عملي دندې
□ خپلواکي ته پیاوړتیا
□ د زده بهیر روښانه پرمختګ (له ساده څخه پیچلې ته)
□ بصري/غړیز وسیلوکارول

**نمره (1–5): □**

**4. کلتوري او ټولنیز تړاو Cultural & Social Relevance**

□ د افغان کلتور درناوی شوی
□ اروپایي چاپېریال تشریح سم شوی
□ هېڅ ډول کلیشې یا ټا په وهنې نشته
□ د جنسیت حساسیت په پام کې نیول شوی
□ د ادغام موضوعات شامل دي

**نمره (1–5): □**

**5. جوړښت او بڼه/ترتیب Structure & Layout**

□ روښانه جوړښت
□ د لوستلو لپاره اسانه
□ زیات باراو ګډوډې نه لري
□ ښه بصري عنصرونه کارول شوي
□ د زده کړې ترتیب اوپړواونه ښه دي

**نمره (1–5): □**

**6. د معلوماتو دقت او اړوندوالی Accuracy & Relevance**

□ معلومات سم او نوي دي
□ د واقعي ژوند حالتونه بیانوي
□ ګمراه کوونکی مواد نشته
□ اداري او مدني سیستمونه سم تشریح شوي
□ باوري سرچینې (که اړتیا وي)

**نمره (1–5): □**

**وروستی پایله Final Resultu**

**ټولې نمرې (اوسط): □**

□ لوړ کیفیت
□ د منلو وړ
□ اصلاح ته اړتیا لرې

## د څارنې او ارزونې پروسه Monitoring and Evaluation Process

د څارنې او ارزونې دا پروسه د دې لپاره جوړه شوې ده چې په اروپا کې د افغان لویانو زده‌کوونکو لپاره د درې او پښتو ژبې د زده‌کړې توکو دوامدار کیفیت شه او تضمین شي. دا یوه ساده، عملي او منظمه طریقه ده چې ښوونکي، روزونکي او اړونده بنسټو یې په بېلابېلو زده‌کړېزو حالاتواوماحولونو کې کارولی شي.

د غه بهیرد **ښوونې موادوپه ټاکولو** selection of materialsسره چې باید ارزونه یې پرې وشي، پیلېږي. . دا مواد کېدای شي کتابونه، کاري لیکنې، ډیجیټل سرچینې یا د روزنې پروګرامونه وي چې په کورسونو، ورکشاپونو یا غیر رسمي زده‌کړو کې کارېږي. دا مواد باید د هدف ډلې لپاره مناسب وي او د هغوی د ژوند له واقعي حالتونو سره تړاو ولري.

په دویم پړوا کې ارزونکی **کیفیتي معیارونه په ګوته** defined quality critical کوي او کاروي چې په دې طریقې کې ذکر شوي دي. په یاد معیارونه مهمې برخې نغښتې دي لکه: د هدف ډلې اړتیاوې، د ژبې کیفیت، د تدریس اغېزمنتیا، کلتوري او ټولنیز تړاو، د درس جوړښت، او د معلوماتو تازه والی او سموالی. هر معیار په منظم ډول ارزول کېږي تر څو بشپړه ارزونه وشي.

وروسته، ارزونکی د څارنې چک لېست checklist monitoring ډکوي. په دې کې هر معیار د یو ساده درجه بندۍ له مخې ارزول کېږي او کتل کېږي چې اړین عناصر شته که نه. لنډ یادښتونه هم لیکل کېدای شي تر څو د موادوغښتلي ټکي، نیمګړتیاوې ستونزې او مهم ټکي روښانه شي. د کیفي ارزونې دغه پړوا ارزونه منظمه او د پرتلې کول وړ ګرځوي.

د څارنې چک‌لېست د پایلوپر بنسټ، ارزونکی د **سمېدو وړ برخې**areas for improvement په ګوته کوي. دغه اصلاح کېدای شي داسې سپارښتنې وي لکه: د ژبې ساده کول، د انځورونو زیاتول، د ژوند له واقعي حالتونو سره د موادو برابرول، یا د تېروتنو سمول. د دغه پړوا په عملي او د پلی کېدو وړ وړاندیزونو تمرکز لري چې په سیده توګه د زده کړو توکو کیفیت او اغېزمنه کارونې زیاتوي.

دا پوړا داسې جوړه شوې چې څو ځله تکرارېدلی شي او انعطاف یا بدولون ولري. اداري کولی شي په دوامداره توګه خپل مواد وارزوي او نوي کړي. د دې طریقې په کارولو سره، ښوونکي او مؤسسې ډاډ ترلاسه کولی شي چې د دوی د زده‌کړې مواد تل اړوند، سم او د افغان لویانو زده‌کوونکو له اړتیاوو سره برابر پاتې شي

## Project Title د پروژې عنوان

## په اروپا کې د افغان لویانو لپاره په مورني ژبو د ښوونې او زده کړې توکو د کیفیت لوړول

**د پروژې مسؤل:**

د افغان ولس کلتور اوسپوتي ټولنه – اتریش

**دټولني مشر:**

**ډاکترفضل الرحمن**

پته: Ennemosergasse 6/4، 1220 ویانا، اتریش

ویبپاڼه: www.afghanwulas.com

**د پروژې معلومات:**

د پروژې شمیره:۲۰۲۴-۱- 000250093–AT01–KA210–ADU

د پیل نېټه: ۱ سپتمبر ۲۰۲۴

د پای نېټه: ۲۸ فبروري ۲۰۲۶

**د پروژې شریکان Partners:**

advisa Unternehmensberatung GmbH (آلمان)

Afghansk Kulturforening(ډنمارک)

International Afghan Enlightened Women (سویډن)

L'Association Solidarite et Culturelle des Afghans A Paris (فرانسه)

Afghanska kvinnors förening i Göteborg(سویډن)

Afghans Solidarity Association(ایټالیا)

Afghan Tips(بلجیم)

**موضوعات(Topcs)**

د ښوونیزو کورسونووده، د کډوالو او مهاجرینو منل او ادغام

---

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

Dislaimer: Funded by the European Union. Views and opinions expressed are however those of the au-thors only and do not necessarily reflect those of the European Union or OeAD-GmbH. Neitherthe European Union nor the granting authority can be held responsible for them.

This work is licensed under the Creative Commons Attribution 4.0 International License. The content is provided ‘as is’ without any warranties, express or implied. The author(s) and funding body accept no responsibility or liability for any use of the material.